ملګري ملتونه – مطبوعاتي اعلاميه

د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو نړيواله ورځ

"په کورکې له سولې په نړۍ کې ترسولې: زده کړه د ټولو لپاره خوندي کړئ"

کابل، د ۲۰۱۵ کال د نومبر ۲۵مه - نن د جنسيت پربنسټ د تاوتريخوالي په وړاندې د ۱۶ ورځني کمپاين پيل ته اشاره کيږي. د نومبر ۲۵مه د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو نړيواله ورځ ده.

سرکال په دغه ۱۶ ورځني کمپاين کې په دې اصطلاح ټينګار کيږي، چې:" په کورکې له سولې په نړۍ کې ترسولې: زدکړه د ټولولپاره خوندي کړئ." دغه نړيوال کمپاين د ټولو لپاره د خوندي اوږدوليزو زده کړو د برابرولو له لارې د سولې په جدي اړتيا ټينګار کوي، چې پرمټ يې د ميرمنو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي له منځه وړلو لپاره کار وشي.

په افغانستان او نړۍ کې به د ملګرو ملتونو اداري او د هغوی نور همکاران د ښځو په وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي لپاره د پوهاوي کچه لوړوي، ټولنې او خلک به د يوه داسې ټولنيز بدلون په لور کې سره منسجموي، چې هلته د ښځو په وړاندې تاوتريخوالی د منلو او زغم وړ نه وي.

په افغانستان کې روانو جګړو او شخړوپه پراخه کچه زده کړو ته د ميرمنو او نجونولاس رسی محدود کړی. په مجموعي ډول، د ۲۰۱۵ کال په لومړنيو نهو مياشتوکې (د جنورۍ له ۱ د سپټامبرتر ۳۰ مې) په افغانستان کې ۲۱۰ ښوونځي د جګړو له کبله تړل شويدي او زده کړو ته د څه باندې ۲۰۵۰۰ نجونو لاس رسی يې اغيزمن کړيدی. د مخالفو وسله والوډلو لخوا نيغو ګوابښونو ښوونځيو ته د شاوخوا ۱۷۰۰۰ نجونوزده کونکوتګ اغيزمن کړيدی. ختيځې سيمې تر نورو ډيرې اغيزمنې شويدي، چې شاوخوا ۱۳۰۰۰ نجونې د ګوابښونو اونورو مستقيمو حملو له کبله ښوونځيو ته نشي تللی.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي مرستيال او د يوناما د دفترسرپرست تدامیچي ياماماتو وويل: " په نړيواله کچه د ښځواو نجونوپه وړاندې تاوتريخوالی ډيرعام او په عين حال کې پټ شوی واقيعيت دی." هغه وويل:" سرکال افغانستان د ښځوپه وړاندې د تاوتريخوالي د زړه بورنوونکو پيښوشاهد و، همدارنګه مورږ په بې ساري ډول د ټولنې د بيلا بيلو قشرونو د ښځو او نارينه د را يوځای کيدو او ډله ييزغبرګون او لاريونونو شاهدان وو، چې ټولو د ښځو او نجونو په وړاندې د تاتريخوالي د پيښو قربانيانو ته د عدالت غوښتنه وکړه. عدالت او حساب ورکول بايد په پام کې ونيول شي."

لا هم په افغانستان کې د ښځو او نجونو په وړاندې تاوتريخوالی په پراخه کچه شتون لري. د ۲۰۰۳ کال په مارچ کې د ښځو په وړاندې د هرډول تبعيض د له منځه وړلو د کنوانسيون له تصويب اوله هغه وروسته له شويو پرمختګونو سره سره د ميرمنو په وړاندې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو او د هغوی د خوندي کولو لپاره بايد ډير څه تر سره شوي وای. قانوني ضمانتونه او ټولنيزبدلونونه له يوه بل سره هم مهاله کار ته اړتيا لري.

په افغانستان کې د ښځو لپاره د ملګروملتونو د دفتر استازي ايلزيرا سګيانبايوف وويل: " د دې لپاره، چې د ميرمنواو ښځو په وړاندې تاوتريخوالی شاته پريږدو، اړينه ده، چې د افغانستان خلک او حکومت له نړيوالي ټولنې سره د ملګرتيا له لارې، د اساسي قانون د تضمينونو د تحقق لپاره د يوه او بل په ملاتړ ګډ کار وکړي." هغې وويل:" د هغوقوانينوعاجلي او اغيزمني عملي کيدا ته اړتيا ده، چې په افغانستان کې ټول خلک په خاص ډول ميرمني خوندي کوي. د داسې يوه چاپيريال رامنځ ته کولو ته اړتيا ده، چې ميرمنې او نجونې پکې د خوندیتوب احساس وکړي او هغوی ته نه يوازې په کور، بلکې په ټولنه کې د پرمختګ فرصتونه برابرکړي."

ملګري ملتونه ژمن دي، چې د افغانستان له حکومت سره مرسته وکړي، چې د ميرمنو او نجونو لپاره له تاوتريخوالي پرته ژوند او په ټولنيزعام ژوند کې د برابرګډون فرصت برابر کړي.

***